مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمد بشیر دودیال
۲۰۱۹/۰۲/۰۶

# افغانستان په سیمه کې د وصل د نقطې بریالی تجربه
# (د لاجوردو د لارې د تجارتي - آزمایښتي کاروان بریالی راستنیدل)

لمړی برخه

**سریزه**

د لاجورودو د لارې د پرانیستنې په ورځ د یو شمیر افغانی صادراتی اموالو یو کوچنی کاروان د اروپا په لوری روان شو، کله چې ترکیې ته ورسید، د ترکیې د تجارت د وزیر مرستیال یې هرکلی ته ورغی. نوموړی دافغانستان او افغانستان د تاریخی دوستی د یادونې په ترڅ کې د دوو دوستو هیوادونو ترمنځ د تجارتی اړیکو د لاپیاوړتیا هیله هم وکړه. دا دی اوس دغه کاروان بیرته راستون او د لوړ کیفیت لرونکی وارداتی اجناس یې وارد کړل. موږ یقین لرو چې که نظام آرام پرېښودل شي، د وروستیو څلورو کلونو پروژې به هره یوه همداسې پایلې ولري، که تیرو څلورو کلونو کې د حکومت ډیرو غوره، مترقی او انسانی برنامو ته خنډونه نه وای جوړ شوی، اوس به دا بریاوی تر دې هم لا زیاتی وای.

باید هیره نه کړو چې په معاصر وخت کې متمدنو او وېښو ملتونو د خپلې اقتصادي ودې، ټولنیزپرمختګ او هوساینې لوري ته پاملرنه کړی ده، د پخوا برخلاف؛ اوس د هیوادونو قدرت، پرتم او پرستیژ د دوی د نفوسوپه شمیر، ځمکنۍ پراختیا او پوځ کې نه، بلکې اقتصادي قوت کې ده. هغه ملتونه چې ښه اقصاد لري، نړیوال اعتبار او حیثیت یې هم اوچت دی. دهیوادونو اقتصادی قوت، سیاسي دریځ، ازادي، د اتباعو خوښي او ډیر نور ټولنیز، روغتیایي او کلتوری معیارونه داقتصادی ودې د درجی او شاخصونو له مخې ارزول کیږي. په همدې خاطر پرمختللو او هوسا ملتونو خپل اقتصادي ظرفیتونه او پوتانسیل سنجولای او ځانته یې د پرمختګ امکانات لټولي دي. افغانستان یو پرمختیایی هیواد دی، چې د اقتصاد له پلوه ډیر وروسته پاتې دی. دغه اقتصادی وروسته والی، د دغه هیواد خلک له راز راز ټولنیزو ستونزو لکه بیکاری، نفاق، اعتیاد، مهاجرتونو، جنګونو، تعصباتو، ناروغیو، بیسوادی ،فساد او دې ته ورته بدمرغیو سره مخامخ کړی دی. له نیکه مرغه اوس دغه هیواد د خپل ډیر مهم جیوپولیتیک او جیواکونومیک موقعیت، طبیعی قیمتی زیرمو، غوره اقلیم او د یو شمیر محصولاتود تولید په مطلق مزیت باندی فکر کوي او دخپل اقتصاد د ښه کیدو او پرمختګ لار هواروي. له دې امله چې په وچه کې پروت هېواد دی، خو غواړي چې اوبو ته لار ومومي او لکه دپرمختللو هیوادو په شان ځان د تجارت نړیوال مسیر ته ورګډ کړی. دهمدې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې د وچې پنځو بندرونو، د وسپنې د سیمه ییزې پټلۍ شبکې ، سیمه ییزو اقتصادی سازمانونو، نږدې تجارتی بنددرونو او ترخمکې لاندی منابعو په هکله فکر وکړ. د تاپي پروژه، کاسازر، چا بهار او دسوداګرۍ دهوایی دهلیزونو ترڅنګ یې د لاجوردو د لارې په پرانیستوهم اقدام وکړ. دافغانستان ولسمشر د اقتصادی برنامې په ترڅ کې دمتحده عربي اماراتو د ۲۰۰ میلیون ډالرو مرسته د افغانستان دپنځو بندرونو جوړولو ته په پام کې ونیوله او د (ریکا) او (قلب آسیا) په کنفرانسونو کې یې دسیمې هیوادونه دې ته وهڅول چې د یوه منطقوی اقتصاد په ایجاد سره دسیمې دهېوادونو تر منځ د کډ تفاهم او مرستو زمینه برابره کړي، په دې لړکې یو هم د افغانستان له طریقه د جنوبی او مرکزی آسیا وصل کیدل دي. اوس د دغه پلان ژر پلي کېدو ته لار هواره شوې ده. دغه ټول مثالونه دافغانستتان ځوان نسل ته دامیدواری ښه خبرونه دی.

**په معاصر وخت کې افغانستان ته دترانزیت اهمیت**

د اجناسوتولید، دخدماتو عرضه او د هغو سوداګرۍ زموږ د دور مشخصه ده. د نویو مجهزو لارو جوړول او دتولید او انتقالاتو په لګښتونو کموالی د ټیکنالوژیکي پراختیا سرعت په څیر اغیزمن فکتور دی، چې د نسبي مزیت او د اقتصاد د کچې څخه د ګټو تر لاسه کول ممکن کوي. ترانسپورت د نړیوالتوب د بهیر یو مهم عنصر دی، چې نړیوال بازار ته د توکو انتقال سره د تولیدوونکو او مصرف کوونکو تر منځ وصل کوونکی ګڼل کیږي. ترانسپورت د نړیوال کیدلو زړه جوړوي. د لیږد په اغیزمنو شبکو سره له نړیوال تجارت څخه د ګټې اخیستلو فرصتونه زیاتیږي. (د خپلو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

تولیداتو رسول نړیوال بازار ته او له نړیوال بازار څخه د خپلو اړتیاوو تر لاسه کول). په دې توګه ترانسپورت د اقتصادي ودې او سیالی کلیدي عنصر دی. د سیالی لپاره د منظم سازمان شوي ترانسپورت شتون اړین دی تر څو په سوداګرۍ کې ښه والی راولي، خو د دې په وړاندې سیاسي چالشونه ممکن رامنځته شي، د دې چالشونو مخنیوی د انتقالاتو نړیوال سیستم رامنځته کولو سره ممکن دی. د توکو د لیږد ارزانه کیدل د سوداګرۍ په پراختیا کې مهم رول لري. له نیکه مرغه دې برخه کې افغانستان ډیر مهم موقعیت لری. تجربو ښودلې چې د ګټورو او ارزانه سرچینو په مرسته تولید شوي توکي هغه منطقو لپاره چې د توکو په لیږدولو ورته زیات لګښت راځي زیات قیمته تماميږي، او د نسبي مزیت په نظر کې نیولو سره تولید شوو توکو څخه ګټه اخیستل ورته منفي مزیت رامنځته کوي. د دې خنډونو ماتونکی فکتور لکه څرنګه چې د G. Lundgren له خوا په ګوته شوي د ترانسپورت په تکنالوژۍ کې درې انقلابونه دي. لمړی انقلاب د ۱۶ – ۱۸ پیړی په اوږدو کې د بدلونو د یو سلسلې په توګه رامنځته شو چې دې وخت کې د بحري جهازونو ډیزاین او اغیزمن کولو په برخه کې ستر پرمختګونه وشول. په تدریجي توګه د بحري جهازونو څخه کار اخیستلو سره د نړۍ جلا ساحلي ساحې سره ونښلول شوې، چې شمالي او سویلي امریکا، افریقا او آسیا له اروپا سره وتړل شوې او د لومړي ځل لپاره (نړیوال اقتصاد ) رامنځته شو.

دویم انقلاب د ۱۹ پیړې په منځ کې رامنځته شو، چې د بخار انرژۍ څمکني او بحري ترانسپورت ته توانایي ورکړه چې لیرو فاصلو ته توکي ارزانه انتقال کړي. څرنګه چې د اورګاډي پټلی د آسونو د ترانسپورت، او فلزي کشتیو د لرګو کشتیو ځای ونیوه، د نړۍ صنعتي مرکزونو ته (په شمالي امریکا، سویلي امریکا، افریقا او اسیا کې) د لومړنیو اړتیاوو توکو ، په ځانګړې توګه د کرنې محصولاتو، ارزانه لاسرسی ممکن شو. دې سره په سوداګرۍ کې ونډه اخیستنه او په بهر کې پانګه اچوونه تشویق شوه، چې د صنعت د پرمختګ لامل وګرځیده. د انتقال لګښتونه د ۱۸۷۰ کلونو څخه د ۲۰ پیړۍ تر پیله ٪۶۰ کم شول، چې د صنعت د تخصصي کیدلو او نړیوال کیدلو پروسه یې ګړندۍ کړه. دریم انقلاب د ۱۹۵۰ کلونو ورسته رامنځته شو چې د سوداګریزو بیړیو په متوسطه اندازه کې ډراماتیک غتوالی راغي. بیړیو د پخوا په برتله له دوه برابره څخه زیات د انتقال امکان پیدا کړ.

د تکنالوژیکي بدلونونو نتیجه کې د انتقال لګښتونو کې د پام وړ کموالی راغلی دی. د سوداګرۍ سهولتونو سره نن ورځ د صنعت، معدنونو، کرنې او ځنګلونو ضایعات هم په نړیواله کچه د سوداګرۍ توکي ګرځیدلي دي.

د ترانسپورت لګښتونه د سوداګرۍ په نظریو کې مرکزي موضوع ګڼل کیږي. د ترانسپورت لګښتونو سره د سوداګرۍ په وړاندې رامنځته کیدونکي خنډونه له تعرفو څخه ستر دي. زیات وخت دا باور موجود وه چې د سوداګرۍ لګښتونه په نړیواله سوداګرۍ کې زیات مهم نه دي، خو نن دا منل شوي چې دا لګښتونه خورا مهم دي. دا دی افغانستان په سیمه کې د لارو په جوړولو اودې برخه کی د یوې رښې ستراتیژۍ په خپلولو سره څلورم انقلاب راوست. اوس افغانستان د منځنی آسیا او جنوبی آسیا د وصل کړی ده. یو مثال یې د لاجوردو لار ده، چې په اصل کې د وریښـــــمینو د لارې بیارغونه ده چې لرغونتیا یې له نن څخه وړاندې ۲۰۰۰ کلونو ته رسیږی. افغانستان د پیړیو په پوړیو کې د مدنیتونو ، سوداګرې او کاروانونو په تګلورى او مسیر کې واقع و او د نړۍ لرغونی تجارتی لاره چې له ختیځ څخه د کاشان او کاشغر له سیمو تر شاماتو او تور سمندرګی رسیدله، له همدې هیواد څخه تیریدله چې هغه مهال ورته د وریښمو لار ویل کیده. پر همدې لارې به دبد خشان لاجورد د منځنی اسیا او اروپا یو شمېر هېوادونو ته وړل کیدل. دغه لار په څو ځایونو کی دافغانستان له بیلابیلو سیمو څخه تیریدله چې په تګلوري کې یې کاروانسرایونه او د اجناسو د تبادلې بازارونه وو. وروستی سیاسی او سوداګریز تحولات په داسې مسیر کی روان دی چې دبحری لارې په عوض یوه د وچې نوی لاره چې هم جنوبی آسیا له مرکزی آسیا سره او هم یې له اروپاسره وصل کړی، پرانیستل شی. د یوویشتمې پیړی له پیل څخه راوروسته؛ په مجموع کې دنړی داقتصاد ثقلت او نوی پانګوني او پروژې آسیاته راولیږدول شوی او د انتلانتیزم دریځ ضعیف او رول یې مخ په کمیدو دی. اوس د ایرو-ایشیا مفکورې قوت پیدا کړی چې افغانستان پکې ځانګړی دریځ ترلاسه کولای شي. چین او هند دوه نوی لوی اقتصادی قوتونه غواړی مارکیت او پانګونه یې منځنی آسیا ته ورسیږی، د منځنی آسیا هیوادونه هم غواړی دجنوبی آسیا هیوادو ته د دوی د اړتیا وړ انرژۍ دتامین په خاطر نللیکی، فایبری نوری شبکو او نور امکاناتو ته توسعه ورکړی. له همدې امله افغان چار واکي په دې لټه کې دي،چې پخوانی لار بیرته دسوداګرۍ لپاره وکاروي، نو ځکه یې ورته دلاجوردو دلارې نوم غوره کړ. افغانان باور لري، چې دوه زره کاله پخوا لا افغان سوداګرو هغه لار کاروله چې شل پیړی وروسته یې د بیا ځلي کارولو هوډ لري.

*۱ نقشه: د وریښمو دلرغوني تجارتي لارې پرسر دافغانستان موقعیت*





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغه لار د افغانستان له تور غونډۍ پیلیږي او دترکمنستان هېواد د ترکمن باشي بندر ته رسیږي .داذربایجان دباکو له ښاره تر تېریدو وروسته ،دګرجستان دتفلیس سره نښلي او له هغه ځایه به دترکیې قارس ته رسیږي. له قارس وروسته به استنبول او بیا به دغه لار د ازادو اوبو سره یو ځای شي. دهغو اټکلونونو له مخې چې د سیمه ییزو تحولاتو په رڼا کی شوي دی، ورڅخه څرګندیږي چې دغه لار لنډه اسانه اوخوندي لاره ده، ځکه له افغانستانه تر تر کمن باشي بندر پوري د موټرو او اوسپني پټلی شته دي.له باکو نه دتفلس او قارس پر لور او بیا تر استانبوله هم سړک او هم د ریل ګاډي پټلی شته دی.

د یوه اټکل له مخي دا لار لنډه ده ،که افغان سوداګر له کراچۍ نه خپل مالونه راوړي، نو تر جلال آباده ۱۶۰۰ کیلومتره لار ده،څومره که پاکستان زموږ تجار ونه ځوری او آسانی هم راولی بیاهم دیارلس څوارلس ورځې په کار دي چې مالونه له اروپا ورسیږي یا بهر ته صادر شي، چې په یوه لارۍ پنځه یا پنځه نیم زره ډالر لګیږي، خو عملاً لیدل کیږی چې پاکستان لکه د دوی د سلف (انګریز) په شان تل افغان سوداګرو ته ستونزې پیدا کوی او دکراچۍ بندر څخه دافغانستان پرضد دسیاسی فشار د یوی وسیلې په توګه کار اخلی. (انګریزانو څو ځله په امیر عبدالرحمن خان او دوه ځله په غازی امان الله خان چې له جرمنی څخه یې دافغانستان دعصری کولو لپاره فابریکی خریداری کړی وی، او دکراچۍ له لارې یې هیواد ته راوړلی دغه لاره بنده او دفشار په ډول یې ورڅخه استفاده وکړه). اوس دافغانستان دولت غواړی دافغانستان تجارت د یوه – دوو هیوادو له انحصار څخه وباسی. د نوی لارو او له هغی جملې د لاجوردو دلاری ګټه داده چې هم له دې ډول فشارونوڅخه خلاصه، هم لنډه او هم اقتصادی ده . که وغواړو دقزاقستان له لارې خپل مالونه ولیږو، نو لار ۶۲۰۰ کیلومتره ده او پر یوه لارۍ ۴۲۰۰ او یا ۴۵۰۰ډالر مصرف راځي، خو که دتور غونډۍ نه یوه لارۍ بار کړو ترکیې ته یې یوسو او بیا یې اروپا ته ورسوو لار به ۲۲۰۰ کلومتره وي او لګښت به پرې ۳۲۰۰ او یا ۳۵۰۰ ډالر راشي، همداسې هم له هغې خوا. یعني دا لار لنډه ده ،که موږ له کراچۍ نه خپل مالونه راوړو، نو تر جلا ل اباده ۱۶۰۰ کیلومتره لار ده،خو دیارلس څوارلس ورځې په کار دي.

۲ ، نقشه : د لاجوردو دلارې مسیر له افغانستان څخه تر ترکیې(اروپا)پورې




په پام کې ده دغه لار له ترکمنستان، اززبایجان او ګورجستان څخه تر توري بحیرې او د ترکي نه په تېریدو افغانستان له ازادو دو اوبو سره ونښلوي. ولسمشر څو ځله ګاونډیو هیوادو ته خطاب کې ویلی دي چې باید سیمه د تروریزم د تهدید پر ځای د سوداګری او مدنیت په څلور لارې بدله کړو. دافغانستان رهبری په سیمه کې د یوه منطقوی اقتصاد دهستې د ایجاد په هڅه کې دی . سیمه ییز اقتصاد، د اقتصاد په ډګر کې هغه مفکوره ده چې د فضایي بُعد Spatial Dispersion او داقتصادی فعالیتونو Economic Activities اړیکې تحلیل او مطالعه کوي او دسیمې داوسیدونکو داقتصاد دښه والی لاربنودنه کوي. دهمدې ضرورت له مخې سیمه ییز اقتصادی سازمانونه ، سیمه ییز بانکونه، سیمه ییز بازارونه ، سیمه ییز یامنطقوی ترانزیت او ترانسپورت، لویې لارې او داسې نور مسایل رامنځته شوي دی. د دغې څانګې په مطالعې سره هره منطقه خپل اقتصادی مزیت، رجحانات او دریځونه ټاکي او داقتصادی قوانینو له مخي دخپل مفاد اعظمی کولو او د اجناسو او خدماتو په مبادله لاس پوري کوي. دسیمه ییز اقتصاد له مخې، یوه څانګړی سیمه او حوزه په ډیر ښه ډول سره خپل نسبی مزیت سنجوی او دهغې له مخې یوې بلې سیمې، منطقي یاحوزې سره دتبادلې انډول تامینوي. دمناطقو جغرافیاوي خصوصیات او دکار څواک اندازه او مهارت، طبیعی او اقلیمی شرایط اومنابع، دترانسپورت سهولتونه اونورعوامل د دې لامل کیږي چې دمناطقو او سیمو ترمنځ دپوتانسیل او ظرفیت له مخې ژور توپیر رامنځته شي. منطقوی اقتصاد ( regional economic) چې له دې پلوه یې افغانستان ډیر ښه موقعیت کې دی، د ټاکلې فضایي بُعد دننه داقتصادی فعالیتونو څخه عبارت دی. منطقویتوب په تیره بیا هغو هیوادونو ته ډیر ضروری ده چې لاتراوسه له اقتصادی پلوه خوار او له سیاسی پلوه په انزواکې دي. دوی به په انفرادي توګه ډیرخوار پاتې شي، خو په تجارتی مسیر کې ورګډیدل، داړیکو پراخول، په یوه منطقوی سازمان کې یې غړیتوب او د ترانزیت او مناقلاتو عصري کول یې دپرمختګ چانس زیاتوي. منطقوی اقتصاد د څانګړو شرایطو له مخې رامنځته کیږی، چې مهم یې مطلق مزیت ( Absolut Advantage ) لرل دی، او افغانستان د خپل موقعیت، دجنوبی او مرکزی آسیا په وصل کولو کې د ترانسپورت دلګښت دکمښت اویو شمیر څانګړو تولیداتو له مخې دا مزیت لری. اوس چې د اقتصاد ثقل دغې منطقي او په مجموع کې آسیا ته دلیږد په حالت کې دی، ډیر هیوادونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

افغانستان ته سترګې اړوی. د ریکا په ټولو کنفرانسونو( RECCA I-RECCAVII) او قلب آسیا (دآسیازړه) کنفرانس کې د سمیي هیوادونو دافغانستان ستراتیژیک، جیوپولیتیک او جیواکونومیک ارزښت تایید کړ. په دې لړ کې په ۲۰۱۶ کال کې د ریکا اووه( RECCA VII) په کنفرانس کی اتو هیوادونو د لاجوردو د لارې په جوړیدو توافق وکړ چې د سیمه ییز اقتصاد دغوړیدا لپاره یو بنه زیری و.
د فعلاً لپاره د لاجوردو لاره صرف د لاریو موټرو لپاره مساعده لاره ده، داځکه چې تراوسه موږ د وسپنې پټلی نه لرو، خو په راتلونکی کې به د پټلی له درې ګونو ګیچونوڅخه خامخایوی سره وصل او افغانستان به هم د ریل پټلی خاوند شي. هغه لیکه چې ایران ،پاکستان او دمنځنی اسیا له هیوادونو څخه افغانستان ته راځي ،نو دا چې افغانستان خپله د وسپنې لیکه نه لري او تر ي لیري دی، ورسره وصل شوی لا نه دی، آینده کې به د دغو هیوادو د وسپنې پټلی سره وصل شي، خصوصاً کله چې موږ د راتلونکی خبره کوو، نودا هیلې هم له پامه نه شي لویدې چې د افغانستان دلویو لارو په جوړولو کې دچین او هند په څېر دسیمه ییزو شریکانو مرسته، به د دې هېواد داقتصاد دغوړیدو لامل شي، دجنوبی آسیا، د افغانستان او منځنی اسیا دهېوادونو اقتصادي او سوداګریزو چارو ته به پراختیا ورکړي او افغانستان به د وصل یوه نقطه وي. د افغانستان دولت او ولسمشر لا هم په دې برخه کې نورې اقتصادي او ترانزیتي برنامې لري. افغانستان غواړي چې افغانستان د سیمې د راکړې ورکړې او اقتصادي همکاریو په مرکز بدل کړي .داسې مرکز چې د سیمې سوداګریز کاروانونه لنډ، اسانه او بې جنجاله له افغانستان څخه تېر شي.
د دې ګټه به دا وي چې افغانستان به ورسره له اقتصادي پلوه ګټه وکړي. سوداګریز مالونه به په اسانه ولیږدوي. خپلې اړتیاوې به پوره کړي. له دې لارې به حق العبور او مالیه تر لاسه کړي، ملي عواید به لوړ شي، د پردیو له احتیاجه به بېغمه شو، کار او شغل به ایجاد شي. په سیمه کې به د افغانستان ارزښت لوړ شي( او لوړ هم دی). جګړه به ختمه شي، ثبات به ورسره وغوړېږي او اوسنی ټولې ستونزې به ورسره حل شي. که دغه پلان عملي شي افغانستان به دایران پر چا بهار بندر سربېره په سیمه کې د اوبو نورو نویو بندرونو ته لار ومومي. د آسیایی هیوادو د اقتصادپوهانو له طرحو سره سم، افغانستان په دې منطقه کی هم د چاه بهار د راتلونکی دورنما، د یوې لارې یو کمرند او هم د وریښمو لارې راتلونکي له مخې اساسی ارزښت لري.

*۳،نقشه: د ایرو ایشیا منطقوی اقتصاد*



په دې توګه دافغانستان تجارت ته ډیرې نوې لارې پرانیستل کیږي، خو زموږ لپاره د نوو لارو موندل له کوم بل هېواد سره د لارو د بندولو په مانا نه ده، بلکې د نورو لپاره هم آسانتیاوی راولی. دبیلګی په توګه پاکستان اروپا ته د رسیدو هیله افغانستان پورې تړلې ده. د چین او پاکستان اقتصادی کوریدور (CPEC)یوه شبکه به له افغانستان څخه تیریږی.

*۴،نقشه: د چین او پاکستان هغه طرح چې د یوه شبکه بېې له افغانستان څخه تیریږی*




له دغې لارې هم پاکستان او هم افغانستان اروپايي هیوادونو ته لار پیدا کوي او خپل توکي په اسانۍ د اروپا بازارونو ته رسولای شي. افغان دولت او سوداګر تمه لري چې له دې لارې په ګټه اخیستلو سره به خپل توکي په ارزانه بیه اروپايي بازارونو ته ورسوي او افغان سوداګرو ته به ئې ګټه ډېره او د افغانستان سوداګریز ملګري (تجارتی شریکان) نور هم ډېر او یوځل بیا به د افغانستان تاریخي موقعیت راژوندی شي. دا لار د کراچۍ دبندر په پرتله ډاډمنه ،دکم وخت غوښتونکی، لږ مصرف او په کمې ګمرکي بروکراسی سره د افغانی تجارو په ګټه ده، مثلاً د کراچی له لارې د ۱۴ورځو په عوض شپږ ورځې، یوه لاری


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مال التجاره د ۵۰۰۰ د الرو په عوض ۲۰۰ ډالره، دا په داسي حال کي چي له تورغنډۍ دترکيي تر قارس بندر پورې ۲۰۰۰کيلومتره لار راځي، اما د قزاقستان له لارې بيادومره لنډه نه ده. د افغانستان د سوداګرۍ په پراختيا، د افغانستان د صادراتي مالونو د لېږد د آساني ترڅنګ، په صادراتي اقلامو کي تنوع هم راځي، چي د صادراتو په ډېرېدو او تنوع سره، په يوه توليدي هېواد د افغانستان د بدلېدو لپاره د همداسي اقداماتو اړتيا ده. له همدې امله ددغې لارې د پرانيستو په غونډه کي دافغانستان ولسمشر، ښاغلی محمد اشرف غني وويل چي: " ۱۷ کاله وړاندې افغانستان د انزوا په حال کي ؤ خو اوس دهغو ګواښونو پروا نه ساتي کوم چي د سرحدونو د تړلو په تړاو به ورته کيده. تر دې مخکي مونږ چاسره داړيکو لار نه درلوده، څو کاله وړاندې مونږ په دې ګواښل کيدو، چي که دا سرحد يا هغه سرحد وتړل شي دخوراک ډوډۍ به ونه لرئ خو نن افغانستان ونښلول شو"

ولسمشر دا هم وويل : " افغان حکومت غواړي چي افغانستان دنړۍ او سيمي هيوادونو سره په تجارتي کچه ونښلول شي اوله هغوی څخه دهمکارۍ اود وصل کيدو هيله لري. مونږبيلوالی نه غواړو، مونږ انزوا نه غواړو، مونږ اړيکي او همکاري غواړو"

له دې څخه موخه داده چي دلاجوردو دلارې جوړيدل به يوازې له جنوبي اسيا هيوادونو سره دافغانستان دتجارتي لارې د تړل کيدو په معنی نه، بلکي برعکس دا به يو داسي اقدام وي چي دا لاربه لومړي قدم کي سويلي اسيا له مرکزی آسيا سره او په دويم قدم کي به يې له قفقاز او اروپا سره وصل کړي. دې ټکي سره د چين هيواد هم ډيره علاقه لري او لويې پانګونی ته چمتو دی. د منځنی او جنوبی آسيا د اقتصادی تحليلګرانو(شنونکو) ترڅنګ، د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو اتاق هم د افغانستان د حکومت د دې نوښت ملاتړ کړی او د دې لارې جوړېدل د افغانستان د خصوصی سوداګرو لپاره يو ډېر ستر ګام بولي.

لکه چي مخکي مو وويل دا په سيمه کي دمنطقوی اقتصاد دايجاد لپاره يوه زيربنا ده او له افغانستان سره په شريکه دسيمي د ډيرو هيوادو ګټي پکي دی، نو ځکه ترکمنستان ،اذربايجان ،ګرجستان او ترکيې په دې برخه کي په سلګونه ميليونه ډالره پانګونه کړې ده او له افغانستان سره يې دتجارتي اړيکو دپراختيا ترڅنګ، په نورو بيلابيلو برخو کي هم دهمکاريو ژمنه کړې ده.

د اوس لپاره په تجربوی توګه پ نهوموټرو کي ۱۸۰ ټنه افغانی تجارتي مالونه چي په هغو کي پنبه،مميز کنجد (زغر) اودهندوانو تخم شامل و، دسويلي اسيا اواروپايي هيوادونو په طرف حرکت وکړ، چي ترکيې ته په رسيدو سره د ترکيې هيواد دتجارت دوزارت معين ورته ښه راغلاست ووايه او په دې مناسبت يې يوه وينا وکړه چي په هغې کي يې د افغان – ترک تاريخی دوستی او راتلونکو پراخه اړيکوته هم اشاره وکړه.

**دسيمې د هيوادونو دريځ او برخه اخيستنه**

د لاجوردو لاره د افغانستان، ترکمنستان، آذربايجان، ګرجستان او ترکيې ترمنځ د ترانزيټی، سوداګريزو او ترانسپورټی همکاريو د زياتيدو او د ترانزيټی خنډونو د له منځه وړلو او د يادو هيوادونو ترمنځ د ګډو ګمرکی فعاليتونو اوهمکاريو د ودې په موخه، او سمندری بندرونو ته د لاسرسی د بديل په توګه جوړه شوه. د ترکمنستان، آذربايجان، ګُرجستان او ترکيې له لارې د سړک او د اوسپني د پټلی په واسطه د توکو ترانزيټ د افغانستان، منځنی آسيا، قفقاز، بالکان او مرکزی اروپا ترمنځ تر ټولو مناسبه لار ده او له اروپايي هيوادونو سره د سهيلی آسيا د نښلولو لپاره ډېره اغيزمنه بلل کيږی، نوځکه يې ټولو ديوې افغانی طرح په توګه تود هرکلی وکړ . د افغانستان لپاره د دې لارې اهميت دا دی چي دا لار د پورته يادو شوو سيمو ته د رسيدلو لپاره ترټولو لنډه،ارزانه، له فشارونو ژغورلي او دايمنه لار ده، چي داقتصادی ګټو ترڅنګ مثبت فرهنګی، سياسی او امنيتی تاثيرات هم لري. په لاندې نقشه کی ښکاري چي دغه ترانزيټی لاره د فارياب ولايت د آقينې له بندر او د هرات ولايت د تورغنډۍ له بندر څخه پيل او د ترکمنستان د ترکمن باشي بندر په لور غځېدلی او د خزر له بحيرې څخه له تېرېدو وروسته د آذربايجان پلازمينی باکو او وروسته له هغه د ګرجستان پلازمينی تفليس او د توري بحيرې تر پوتی او باتومی بندرونو پورې رسيږی او سر بيره پر دې د قارص له بندر څخه د ترکيې هيواد د استانبول بندرونو ته او په پايله کي اروپا سره نښلی.

*۶، نقشه: زموږ راتلونکی اقتصادی- تجارتی شريکان*



د لومړۍ برخې پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ